**AFGHAN GERMAN ONLINE**
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

پوهنمل حاجی محمد نوزادی

۲۰۱۲/۰۶/۲۲

# د بی پیلوټه الوتکو جوړښت او جګړه ایز اغیزمنتوب

د POLITIKEN پنامه ډنمارکی ژبی ورځپاڼی په ۷ / ۶ / ۲۰۱۲ نیټه د «اوباما د بی پیلوټه الوتکو کارول زیاتوی» تر سرلیک لاندی یوه لیکنه خپره کړی چی منځپانګه یی په پښتو ښه په لاندی کرښو کی وړاندی کیږی :

ورځپاڼی دنوموړی الوتکی دجوړښت ځینی پارامترونه داسی ښودلی دی : بی پیلوټه الوتکه unmanned aircraft د میزایلونو د لیږد او ویشتلو یوه جنګی وسیله ده چی د سټلایټ د لاری لارښودنه ورته کیږی. د الوتکی یو لړ ځانګړتیاوی دادی :

الف : د وزرونو ګډ اوږدوالی ـ ۲۰ متره
ب : په هوا کی د پورته کیدو لوړوالی ـ اعظمی ۱۵ کیلومتره
ج : د الوتکی اوږدوالی ـ ۱۱ متره
د : په یو ځل د الوتلو واټن ـ ۳۰۰۰ کیلومتره
ه : د لیږدونکو میزایلونو ټولیز دروندوالی ـ ۷،۱ ټنه میزایلونه وړلای شی
و : د الوتکی ماډل – MQ-9 Reaper
ز : د یوی الوتکی قیمت ـ ۵،۱۰ میلیونه ډالر

د بی پیلوټه الوتکی د سر په پاسنی برخه ( ککری ) کی د رادار سیستم ځای پرځای شوی او منځنی برخی ته نژدی په پاسنی خوا کی یو قوی انتن لری چی پدغه انتن سره د مرکز نه دسټلایټ د لاری قومانده تر لاسه کوی . د سر دخوا په کښتنی برخه کی یی یوه داسی کامره نصب ده چی په مټ یی د **۳۰۰۰ دری زره متره** ( دری کیلومتره ) لوړوالی څخه د ځمکی پرمخ ان د موټرو لمبرپلیټونه لوستل کیدلای شی . د الوتکی په ګیډه کی د لیزر پواسطه رهبری کیدونکی میزایلونه ( راکټونه ) ځای پر ځای کیږی . د الوتکی د کار ډول داسی دی چی نوموړی الوتکه د امریکا د یوی جنګی الوتکو وړونکی کښتیۍ او یا هم په وچه کی د امریکا دکومی نظامی هډی څخه لیږدول کیږی او دسټلایټ دلاری لار ښودنه ورته کیږی چی په کوم ادرس تر هدفه پوری ځان ورسوی . کله چی دهدف ساحی ته ورسیده او د کامری دلاری هدف په کنترول کوونکی مرکز کی ولیدل شو ، بیانو د قوماندی د دغه مرکز له لوری نه د راکټ ( میزایل ) د خوشی کولو امر ورته ورکول کیږی چی پدی توګه هدف له منځه ځی . ( دبیلګی په توګه هغه الوتکه چی دبګرام یا کندهار نه د وزیرستان په لور استول کیږی ، کیدلای شی د رهبری او کنترول مرکزی قومانده یی پخپله په امریکا کی وی او دهغه ځای نه یی ټولی چاری تر سره شی . ژباړ.

د هغه مهال راهیسی چی بارک اوباما د امریکا اولسمشر شویدی ، دهغو کسانو پرضد یی چی دوی یی تروریستان بولی د بی پیلوټه الوتکو دلاری خورا ډیر میزائیل اورولی دی . ده دجنګ دا ډول سیوری ګویا د القاعدی او طالبانو دمشرانو پر سرغوړولی چی پخوا یی ساری ندی لیدل شوی . د افغانستان ، پاکستان ، یمن او سومالیا د فضا څخه ددی ډول میزالونو خوشی کول اوس یوه ورځنی عادی خبره ګرځیدلی ده . دکله راهیسی چی اوباما د سپینی ماڼی واک تر لاسه کړی ، یوازی په پاکستان کی یی ۲۵۵ د بی پیلوټه الوتکو بریدونه کړی او دا پداسی حال کی ده چی د بوش په ټوله اته کلنی دوره کی صرف ۴۵ دا ډول بریدونه تر سره شوی وه . دبیلګی په توګه په پاکستان کی په دوه زره څلورم او پنځم کلونو کی یو یو برید ، ۲۰۰۶ کی دری ، ۲۰۰۷ کی پنځه ، اتم کی ۳۵ ، نهم کی ۵۳ او لسم کی ۱۱۷ ، یوولسم کی ۶۴ او د ۲۰۱۲ کال په لومړیو ۵ میاشتو کی ۲۱ بریده تر سره شویدی.

ترهغه وروسته چی د ژورنالست Daniel Klaidman نوی کتاب د « Kill or capture وژل یا نیول » پنامه له چاپه ووت ، چیری چی یی د اوباما جنګی سیوری څیړلی دی ، دغو بریدونو پخپله په امریکا کی هم بحثونه راهځولی دی . په نوموړی کتاب کی راغلی « . . . پسله هغه نه چی اوباما په ۲۰۰۹ کال د سولی جایزه پلاس راوړه ، ده د دا ډول بریدونو اجازه ورکړه او دومره بریدونه وشوه چی د بوش په دواړو دورو کی نه وه تر سره شوی.

## د خپلواکۍ او ملی حاکمیت له حق نه تیری :

د بی پیلوټه الوتکی د ۵ / ۶ / ۲۰۱۲ نیټی برید پر پاکستان باندی هم بحثونه راوپارول . پدی برید کی چی د القاعده مرستیال ابو یحیا اللیبی د پاکستان په شمال لودیز کی په نښه شوی وو ، ۱۵ تنه ووژل شول . پاکستان دا کار د امریکایانو لخوا یو غیرقانونی عمل او ددی هیواد د حاکمیت په اړه یی تیریٔ وباله ، پاکستان دا هم وایی چی پداسی بریدونو کی ډیریٔ وخت بیګناه ملکی وګړی وژل کیږی.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

په تیر یونیم کال کی چی نوموړی بریدونه په پاکستان کی تر یوی کچی کم شوی، پدی وخت کی یی په یمن کی شمیر زیات شویدی. د بیلګی په توګه په تول۲۰۱۰ کال کی د ۴ بریدونو څخه د ۲۰۱۲ په لومړیو۵ میاشتو کی ۲۲ بریدونو ته زیات شول. په سومالیا کی هم حالت همداشی دی چیری چی د الشباب سازمان مشران په نښه کیږی.
د کوپنهاګن په پوهنتون کی د نظامی څیړنو پروفیسور Mikkel Vedby Rasmussen د اوباما په امر ددی بریدونو د زیاتوالی لامل دا بولی چی دی غواړی له عراق او افغانستان څخه د جنګی قوتونو تولګی و باسی . دی وایی « دامریکا جنګونه و دومره بی شمیره زیاتو لګښتونو ته اړتیا لری چی امریکا یی داګړی د لګولو څخه ناتوانه ده ، پدی خاطر نو دوی د بی پیلوټه الوتکو کارول دجبران یوه اسانه لاره ګڼی ، او پر القاعده باندی د بری په موخه تر دی چی په سلګونو زره عسکر ځای پر ځای کړی ، داکار یی اغیزمن ګڼلی دی . لدی نه پرته بی پیلوټه الوتکی پخپله د امریکا څخه هم رهبری کیدلای شی . ځکه نو دوی ته دا ډیر ارزانه تماميږی چی دا ډول الوتکی هوا ته ورخوشی کړی ».

## د بی پیلوټه الوتکو په هکله دسیمی اوسیدونکی څه وایی ؟ :

د افغانستان سره د پاکستان په سرحدی سیموکی د دغو الوتکو بریدونو د خلکو قهر راپارولی دی. د New America Foundation لخوا په ۲۰۱۰ کال د نوموړی سیمو د ۱۰۰۰ تنو څخه مخامخ پوښتنی شوی چی ۷۶٪ خلک ددی بریدونو مخالف وه او ویل یی پدی بریدونو تر لویه بریده ملکی بیګناه وګړی وژل کیږی . ددی پوښتنو د پایلو څخه تر ټولو په زړه پوری داوه چی ۷۷٪ خلکو ویل چی ددی بریدونو اصلی موخه د (اسلامی نړی سره ویشل او کمزوری کول دی ترڅو ددی لاری د امریکا و باداری او تسلط ته لاره اواره کړی، نه دا چی د القاعدی او طالبانو مشران له منځه یوسی).
په لندن کی د Investigative Journalism بیرو د The Guardian ینامه برتانیوی ورځپانی له خولی څرګندوی چی پر پاکستان د بی پیلوټه الوتکو په بریدونو کی تر ۸۳۰ تنو پوری ملکی وګړی وژل شوی او ددغو کسانو ډیره برخه ښځی او ماشومان دی . د بریدونو دقربانیانو دا شمیر په یمن کی ۱۳۸ او په سومالیا کی ۵۷ تنو ته رسیږی .
په امریکایی څارګری اداری سی ای یی کی د انتی ترور د مرکز پخوانی مشر Robert Grenier د « ګارډین » ورځپانی ته د دا ډول بریدونو په اړه ویلی « موږ پدغو بریدونو سره داسی یو حالت منځته راولو چی له مخی یی د هغه شمیر دښمنانو په پرتله چی د جنګ د ډګر نه یی باسو ، زیات شمیر دښمنان ځانته پیدا کوو » .
په ۲۰۱۰ کال کی م. م. یو راپور خپور کړ او هلته یی تشویش ښودلی وو چی د بی پیلوټه الوتکو په بریدونو کی د بشر حقونه تر پښو لاندی کیږی . ددغه راپور لیکونکی Philip Alston داسی استدلال کوی او وایی چی د جنګی ډګر او د بی پیلوټه الوتکو د رهبری کیدو د مرکز تر منځ واټن د پلی سټیشن Play station هغو جنګی بازیو ته ورته والی لری چیری چی د جنګ د بنسټیزو اصولو مراعات کول سخت کار دی . ملګری ملتونه پدی راپور کی د بی پیلوټه الوتکو د پاره د یوه رڼه ( شفاف ) پروسیجر غوښتنه کړی ځو له مخی یی دا څرګنده وی چی کله او څنګه ددی الوتکو څخه کار اخیستل کیدلای شی ، دا هم باید ګرنتی وی چی دهر برید وروسته باید دهغه پایلی په دقیق ډول و ارزولی شی.
دنوموړی سرچینی څخه د ژباړی پای.
لدی نه پرته پدی وروستیو کی د رسنیو د لاری دا خبر هم خپور شو چی امریکا غواړی خپل پوځ ته په افغانستان کی داسی وړی بی پیلوټه الوتکی ولیږی چی یو عسکر یی په خپل بیک ( چانټه ) کی په شا کولای اوهرچیرته ورسره وړلای شی. دا ډول الوتکی چی Flying Shotgun یا د **(ویشتلو الوتونکی ټوپک)** یی هم بولی سره لدی چی ډیری وړی دی مګر د دوی وړوکی سرګلوله د لګیدو په ځای کی ورانونکی چاودنه رامنځته کولای شی. داچی ددغو الوتکو د الوتنی واټن لنډ دی ځکه نو تر هدف پوری ژر رسیږی او حمله ډیر ژر تر سره کوی.
د ( Jylland-Posten) ینامه ډنمارکی ورځپانی د خپلی ۱۵ / ۶ / ۲۰۱۲ نیټی په ګڼه کی د نوموړو الوتکو په اړوند یو لنډکی مالومات خپور کړی چی غواړم پښتو ژباړه یی همدارنګه دلته مل کړم :
د منی په رارسیدو سره به په افغانستان کی امریکایی پوځونه د اوسنیو وړو بی پیلوټه الوتکو پر ځای نوری داسی وړی بی پیلوټه الوتکی تر لاسه کړی چی سمندری ځواکونه هم ورڅخه کار اخیستلای شی . دا الوتکی چی یو بدیل ماډل دی ، په حقیقت کی یوه د لیری واټن څخه کنترول کیدونکی وزر داره کامره ده . دا اله په افغانستان کی د دښمن په پیداکولو کی ډیره اغیزمنه ګڼل شویده . د پنځو کالو راهیسی امریکایی اردو په ازمایښتی توګه ورڅخه کاراخلی او دتجهیزاتی خدمتونو څانګه یی د کار څخه راضی ده ، پدی توګه به دوی د الوتکو دا ډول ( Puma AE یا پرانګ ) پکار واچوی چی تر اوسه پوری پر ۱۹ نورو هیوادونو باندی هم پلورل شویدی . دا الوتکی به په افغانستان کی د اوسنی ماډل ( Raven یا کارغه ) پرځای و کارولی شی . د امریکایی اردو تجهیزاتی مسئول ددی خبری د څرګندولو څخه ډډه وکړه چی دنوموړو الوتکو کاری وړتیا څنګه ده ، بیه یی څو ده ، څه ډول عملیات کولای شی او په کوم شمیر یی غوښتنه کړیده . خو د ورځپانی لخوا د تر لاسه شوو مالوماتو له مخی ټولټال د ۵۷ میلیون ډالرو په ارزښت ددی ډول الوتکو فرمایش ورکړل شویدی .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

د ډنمارک د Odense ښارپوهنتون د نظامی څېړنو مرکز Center for Warstudies کی استاد Jens Ringsmose وایی چی ددی الوتکو دنده د دښمن نظارت او پیژندنه ده او داهغه څه دی چی ډنمارکی بی پیلوټه الوتکی او نوری ډیری دا ډول الوتکی یی په موخه کارول کیږی.

## دندی ته په چټکۍ سره اماده کیدل :

دا نوی ماډل وړی الوتکی شپږ کیلوګرامه وزن لری او د وزرونو ګډ اوږدوالی یی ۸،۲ متره دی ، تر پنځو دقیقو نه په کم وخت کی دندی ته اماده کیدلای شی او دلاس په قوت هوا ته په غورځولو سره د هدف په لور پرواز کوی . د تولیدونکی شرکت Aero-Vironment د څرګندونو له مخی دا الوتکی د مرکز سره د ۱۵ کیلومتره په شعاع اړیکی نیولای او په هوا کی تر ۲ ساعتو پوری الوتنه کولای شی . د کارګه د ماډل په پرتله دغه د ډرانګ ماډل وړی الوتکی په انفراریډ Infrared شعاعی کامری سره سمبال شوی ( انفراریډ یا تر سرو وړانګو لاندی یا ماتحت سرخ دا هغه الکترومقناطیسی وړانګی دی چی دموجونو اوږدوالی یی د لیدلو وړ شعاعو په پرتله زیات او د مایکروموجی شعاعو په پرتله لنډ دی . ژباړ). دا الوتکی اله داسی واټرپروف الات لری چی اوبه ورته نفوذ کولای نشی ، ځکه نو دسمندری قواوو دپاره هم ښه سوغات ګڼل کیدلای شی . ښاغلی Jens Ringsmose زیاتوی « داګړی اصلی پرابلم پدی کی دی چی دټولو هغو مالوماتو دخیرلو او سپړلو دپاره کافی پرسونل نشته، کوم چی ددی الوتکو په مټ راټولیږی». استاد Jens Ringsmose غواړی د بی پیلوټه الوتکو په هکله چی په هر لویوالی تولیدیږی، که وسلی انتقالولای شی او یا نه، یو بشپړ راپور چمتو کړی. د بل لوری نه ښاغلی Jens Ringsmose داهم وایی «د امریکا سمندری پوځونو په افغانستان کی اوس بی پیلوټه څرخکی (هیلیکوپټر) هم ترلاسه کړی چی دلیری واټن نه کنټرول او اداره کیږی . دا څرخکی جبهو ته د لوژستیکی اکمالاتو په موخه تر ۶،۳ ټنو پوری اړین مواد وړلای شی. په جبهه کی عسکر پخپله کولای شی چی نوموړی څرخکی ځمکی ته را کوزی کړی . پدی توګه دا ډار له منځه ځی چی د دښمن لخوا د الوتکی د ویشتلو پر مهال د پیلوټانو ژوند په خطر کی واچول شی». د ژباړی پای

## د ژباړونکی یادوونه :

زما په اند د نظامی عملیاتو په موخه بی پیلوټه الوتکی په ټولیز ډول د امریکا دپاره رښتیا هم ترټولو ارزانه او ددوی د عسکرو د ځانی تلفاتو دمخنیوی له اړخ نه یو بی خطره ماشین دی . خو که دبشر حقونه او جنګی اخلاقی اصول چی امریکا یی د ټیکه داری دعوه لری ، په پام کی ونیول شی ، بیانو دا الوتکی هغه څه نه دی چی امریکا پری و ویاړی . دا منم چی په جنګ کی حلوا نه ویشل کیږی خو په نننی عصر کی یو لړ نړیوال اصول او مثاقونه شته چی باید مراعات شی . په ځانګړی توګه داسی هیوادونه لکه امریکا چی ځان دسولی او ازادی سپینه کوتره بولی او ظاهرا یی په همدی خاطر ځانته د نړیوال ژاندارم حق ورکړی ، د بشر دحقونو درناوی کول د دوی دلومړنیو مکلفیتونو څخه شمیرل کیږی.
را به شو د بی پیلوټه الوتکو جګړه ایز اغیزمنتوب ته . لکه څنګه چی په لوړو کرښو کی یادوونه شویده په ورستیو کلنو کی ددغو الوتونکو وسلو څخه په لویه پیمانه کار اخیستل شویدی خو د امریکا او ناټو لوړ پوړی جنرالان او نظامی څیړونکی یو په بل پسی پر دی خبره ټینګار کوی چی په افغانستان کی جګړه د نظامی حل لاره نلری. ددی خبری مانا داده چی ټولی په نوی تخنیک سمبالی جګړه ایزی وسلی یی ګټور اغیزمنتوب نلری او باید د نورو وسیلو څخه کار واخیستل شی چی هغه به سیاسی لاره وه . په سیاسی لارو کی روغه جوړه کول د ټولو چارو په سر کی راځی. روغه جوړه بیا و یو لړ تیریدنو ته اړتیا لری او داسی شرطونه لکه : مخالف وسلوال دی د افغانستان اساسی قانون ومنی ، د جنګه دی لاس واخلی او خپلی وسلی دی پر ځمکه کښیږدی ، . . . بیانو نړیوال او افغان لوری د دوی سره خبرو ته کښینی. خو دی خبری ته دهیچا پام نشته چی که داډول کسانو له جنګه یی لاس اخیستی وی ، دوی نوبیا وسلوال مخالفان نه بلکه عادی وګړی دی او د لوری یی کوم خطر موجود ندی. د داسی کسانو سره د سولی خبری څه خاصه مانا نلری . په سوله کی پکارده چی دجنګی ډګر دواړی خواوی د لوړو ملی ګټو په پام کی نیولو سره اصولی تیریدنی وکړی او یو بل ته ددغو ګټو په پام کی نیولو سره تاکلی امتیازونه ومنی. کنه نو همدا الوتکی به وی او همدا د بیګناه وګړو مرګ ژوبله . که خبره داسی پاته شی نو ددغو الوتکو او نورو ډیرو پر مختللو وسلو جګړه ایز اغیزمنتوب به صفر وی ، امریکا او اندیوالانو ته به یی د ویاړ کوم داسی ځای پاته نشی چی هم د بشر د حقونو په ټیکه داری کی وربادی ونازیږی او هم دنظامی لاری داسی بریالی لاسته راوړنی خپلی کړی چی په نوبتی ټولټاکنو کی خپل اوولس وربادی قانع اویا خو لږ تر لږه وغولولای سی.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ